هر چاته زارۍ به کړم هلته مې که ځوک بوځي
چیغې او نارې به کړم هلته مې کـه ځـوک بـوځي
زه ډېــــر گنهگـــــار یــــم لاس زمـــا وتــــړۍ شــــاته

چیغې او نارې به کړم ځوک راپسې مـه راځـئ
محبوب ته ځوگیلې به کړم ځوک راپسې مه راځئ
هلتــــه خفـــه مـــــه شـــئ جهادیــــاره پــــه ژړا تــــه

***

انتخاب: وفادار نظري

شاعر: میا جمعه گل

❀

څه سرې لمبې دې پورته کیږي له گوگله

تر څو به سوزې

وه گرانه کابله، تر څو به سوزې

په گل سینه دې اور بلیږي

دا څو لسیزې دې ښادي ونه لیدله

پردو دې شته شتمني لوټ کړه

بچي دې بوخت دي په جنگو کې یو تر بله

څه تونـد طوفان دې په سینه څي

لوپټې غورځي د ملالۍ له اوربله

په چور وحشت یې ترینه لوټ کړل

د یادگار نښې د ایوب له پگړۍ وله

د کابل خوار زخمي ټټر ته

اوس ورته اوښکې تویوه میا جمعه گله

***

درتــه ســوالونه کــوي خونــد
خــدای تــه رازونـه کـړئ څرگنـد
وکــړئ پــه زور الله تــه چیغــې فریادونــه

بښــنه غــواړئ لــه غفــاره
لــه الهــي پروردگــاره
چــې درتـه معـاف کـړي الله واړه گناهونـه

خدایـه مـا وغـواړه خپـل در تـه
دې نـوراني بښـکلي منظـر تـه
رفیـق حقیـار درتـه کـوم دغـه سـوالونه

***

انتخاب: سید عمران شاه

شاعر: عثمان غمگین

چې تانه نه ژاړم نو ربه چاته وژاړم
چې تانه نه غواړم نو د بل چا نه وغواړم

بل در د غوښتوماته او بل رب را وښایه
چې څمه دې د ملکه کډه بل خوا ونغاړم
کنه ته مې مولا او زه بنده نو زه حقداریم
سرتور ښېې ابله ښپې دې څکه در کې ولاړیم
راکوې به څه چې غواړم خامخا ته مې مالک یې
هر څو که د دنیا په ګناهونو لتاړیم
د هر څه ذمه واري زما رب العالمین
ښايي چې ستا ثنا صفت په مینه ووایم

دنیا او اخرت کې د عثمان غمګین اسره یې
بل هېڅوک نشته ربه چې خپل ځان پرې وسپارم

